مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۱/۱۲/۰۲

# د لوړې سونامي

## نهمه برخه

## د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## څلورڅلوېښتمه برخه

راشه پر دې خاوره محشر، د محرومیت وګوره
اولاد مې وږی راته مري، راشه قیامت وګوره

یوسف خرڅیږي په بازار کې په درهم او دینار
د حُسن څه عجیب لیلام دی، تجارت وګوره

پانګې عجیبې توبې وکړې په نهرو باندې
زرو ته کیږي سجدې، دا عبادت وګوره

چا ویل دښمن مې په ګونډو کړ زه هم حر ګرزمه
زما يې واخیستې دوډۍ، زما اسارت وګوره

د ازادۍ ماغزه مې وخوړل د لوړې بلا
زه لا عجیب یم راشه زما عجیب حالت وګوره

(عصمت قانع)

د ۲۰۲۱ ام کال د ماشوم نړیوالې ورځې له پاره د «د هر ماشوم له پاره ښه راتلونکې» شعار ټاکل شوی چې د افغان ماشومانو له روان ژوند سره بیخي په تضاد کې دی، دا ځکه چې د افغان ماشومانو او کوچنیانو ژوند ورځ تر بلې مخ په خرابېدو دی. دې شعارونو، د قلموالو لیکنو او هڅو، اصلاً د افغان ماشومانو او کوچنیانو پر روان کړکېچن حالت هېڅ ډول اثر نه دی کړی.

د ماشوم د نړیوالې ورځې په مناسبت د بي بي سي پښتو د «روان وضعیت پر افغان ماشومانو ناوړه اغېز کړی» تر سر لیک لاندې د یوې لیکنې د خپرولو په ترڅ کې ویلي چې افغان ماشومان له بې شمېره ستونزو کړېږي. د یادې لیکنې په یوه برخه کې داسې راغلي دي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

«د ماشومانو نړیوالي ورځي لمانځني سرنی شعار هر ماشوم له پاره ښه راتلونکی دی. دا ورځ داسي مهال لمانځل کېږي، چي افغان ماشومان له ګنو کړاونو کړېږي او په ملګرو ملتو کي د ماشومانو د ملاتړ اداري ویلي چي شاوخوا دري میلیونه افغان ماشومان له سختي خوارځواکی سره مخامخ دي.

په ورته وخت کي د روغتیا نړیوالي ټولني خبرداری ورکړی، چي ښایي یو میلیون افغان ماشومان د کال ترپایه له لوږي خپل ژوند وبایلي.

خو د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د افغان ماشومانو وضعیت د "نړیوالو رسنیو ناسم تبلیغ" بللی دی او وایي "که ستونزې ډېرېږي مسوولیت یې د نړیوالي ټولني پر غاړه دی".

له ۱۹۵۴ کال راهیسي هر کال د نومبر پر شلمه د ماشوم نړی واله ورځ لمانځل کېږي. دا ورځ په دي هدف لمانځل کېږي چي په نړیواله کچه ماشومانو لپاره ګډ کار وشي، عامه پوهاوی زیات او د ماشومانو پالنه ښه شي.

په ۱۹۸۹ کال کي د ماشومانو د حقونو کنوانسیون د ملګرو ملتونو له خوا رامنځته او تایید شو. د دي کنوانسیون له منل کېدو وروسته د نړی په کچه د ماشومانو وضعیت کي د پام وړ ښه والي راغلی. خو لا هم ستونزي شته په تېره جګړه ځپلو او بېوزلو هېوادونو کي.

د دي ستونزو له ډله د زدکړي محرومیت دی. د ملګرو ملتونو شمېرې ښیي چي لا هم د نړی لر او بر ۲۶۲ میلیونه ماشومانو د زدکړي له حقونو بې برخي دي. بله لویه ستونزه د ماشونو نجونو ودول دي. په نړی کي ۶۵۰ میلیونه نجوني له اتلس کلني ټیټ عمر کي واده شوي دي.

افغانستان د هغو هېوادونو له ډلي دی چي ماشومان یي له روغتیایي، زدکړې، او رواني روغتیا له پلوه زیانمن شوي دي.

افغان ماشومان چي هېواد یي له څه باندي څلورو لسیزو د جګړي ډګر دی، په یادو ټولو برخو کي له سخت کړاو سره مخامخ دي.

لوی شمېر ماشومان پر واټونو کارکوي او یا په سختو کارونو بوخت دي. په تېرو کلونو کي هم میلیونونه ماشومان له زدکړي بې برخي وو. اوس چي طالبان واک ته رسېدلي، ما شومان تر پخوا په لا ناوړه روغتیایي او رواني وضعیت کي دي.

د طالبانو د اداري له خوا د شپږم ټولګي پورته زدکوونکو نجونو پرمخ د ښوونځیو تړلو سره د افغان نجونو ستونزه تر بل هروخت ډېر شوي ده.

د کابل پوهنتون د اروا پوهني استاد شرف الدین عظیمي وایي د افغانستان روان حالت د ماشومانو پر روان ناوړه اغېزي کړي دي.»

**دا چي کوچنیان خرڅېږي،**

**کوچنیان شاقه کارونو ته اړ ایستل کېږي،**

**کوچنیان سوال کولو او ګدایي ته کېنول کېږي،**
**او...**

ایا د دي کوچنیانو مشرانو، د هېواد واکدارانو، د کوچنیانو د حقونو پلویانو او... د دي په باب فکر کړی چي:

ــ پر کوچنیانو باندي په پرلپسي ډول دا کارونه ترسره کول، د دوی پر رواني حالت باندي څومره او څه ډول اغیز ښندي؟

ــ د دوی د راتلونکي ژوند وضعیت به له فزیکي او رواني پلوه څه ډول وي، پایلي به یي کوچنیانو ته، د دوی کورنیو ته او راتلونکي ټولني ته څه ډول وي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په یاد ولرئ چې پایلې یې سل په سلو کې منفي دي او ډېر ناوړه عواقب به ولري. د دې له پاره په لومړي ګام کې کورنۍ د اولاد راوړلو په برخه کې که له سره کتنه وکړي او د نویو اولادونو د زېږولو په وخت کې خپل اقتصاد ته په کتو سره د کوچنیانو د ساتنې، پالنې خوراک، روغتیایي امکاناتو او تعلیمي مسایلو په باب فکر وکړي.

وروسته له کورنیو نه دولتونه باید د ماشومانو او کوچنیانو د حقونو په مراعات او د ماشومانو او کوچنیانو په باب د نړیوالو قوانینو په نظر کې نیولو سره، د ماشومانو او کوچنیانو ژوند ته هراړخیزه پاملرنه په خپلو لومړیتوبونو کې ونیسي.

دغه راز نړیواله ټولنه باید د ماشومانو د زیږون، ساتنې، پالنې او د هغوی ژوند ته د هراړخیز پام ساتلو په برخه کې نه یوازې د دوي ژوند په نظر کې ولري، له افغان واکدارانو سره هم په دې برخه اړینې لارښوونې او مرستې ونسپموي.

په نړۍ کې د خلکو د ژوند ترمنځ نا انډولي ډېره ده او دا واټن ورځ تر بلې مخ په ډېرېدو دی. د ملګرو ملتونو د ارقامو له مخې «په نړۍ کې ۴۰۰ ټریلیونه شتمنې شته»

خو د دې تر څنګه د فقر کچه او د وږوو شمېر مخ په ډېرېدو دی.د ملګرو ملتونو مسؤل اشخاص وايي چې په نړۍ کې د دومره شتو له موجودیت سره ـ سره، خلک له لوږې مري، «دا زموږ لپاره د شرم وړ ده.»

او په نړۍ کې دا بد مرغي او سونامي په اوسمهال کې تر ټولو ډېره افغانانو ته ورپه برخه شوې ده. نړیوال خیریه بنسټونه چغې وهي چې د لوږې سونامي افغانان، په تېره ماشومان، کوچنیان، تنکي ځوانان او حامله ښځې په لومړي ګام کې ځملوي او د بشري ناورین لمن نوره هم پراخېږي، خو د نړۍ شتمن هېوادونه او شتمن اشخاص غوږ هم نه ګروي. دا د یونیسف د اداري د چیغو یوه برخه ده:

«په دې وروستیو کې نړیوالو ادارو خبرداری ورکړ چې د خوراکي توکو د بې ساري بحران له امله افغان ماشومان د پخوا پرتله د لوږې له لوی ګواښ سره مخ دي.

یونیسف ویلي، چې په دې ژمي کې به ۲۲.۸ میلیونه خلک چې شاوخوا ۱۴ میلیونه یې ماشومان دي د خوړو له بحران سره مخ شي.

د دغې ادارې په وینا له پنځو میلیونو ډېر ماشومان اوس د خوارځواکۍ څخه یوازې یو ګام لېرې دي او په میلیونونو تنکي ماشومان له خطر سره مخ دي.»

وبه لیدل شي چې په لنډه راتلوکې د افغان حاکمانو او نړیوالو ترمنځ د سیاسي ـ نظامي ناندریو لړۍ په کوم لوري غځول کېږي او پایله به یې د افغانستان د وریو له پاره څه وي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ